مجله علمی و تحقیقی علوم طبیعی پوهنتون کابل

https://jns.edu.af

**Print ISSN: 3078-6657     E-ISSN: 3078-6665**


# د کرنې پر سکتور د قوش تېپې کانال اقتصادي اغیزې


**میرآقا حسین خیل[1] ، خال محمد احمدزی[2]**

[1,2] د کرنیز اقتصاد او پراختیا ډیپارټمنت، کرنې پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل، افغانستان

ایمیل : miraqa_hussainkhail@yahoo.om



**لنډیز**

افغانستان یو کرنیز هېواد بلل کیږي، که څه هم د هېواد د ۸۰ سلنه وګړو اقتصاد په کرنې پورې تړلی دی؛ خو څو لسیزو ناورینونو او په هېواد کې د وګړو ډېر والی هغه څه دي چې افغانستان یې تر دې دمه په کرنیزو محصولاتو کې له پښو غورځولی او کابو د هر کرنیز محصول لپاره نورو هېوادونو ته اړ دی. اوبه د هېواد له مهمو طبیعی سرچینو څخه ګڼل کیږي او د کرنې او مالدارۍ په پرمختګ کې په مستقیم ډول ځانګړې اهمیت لري. افغانستان د کال ۷۵ ملیارد متره مکعبه اوبه لري، چې ډېره زیاته اندازه یې پرته له ګټې اخیستنې ګاونډیو هېوادونو ته ځي. په خواشینۍ سره باید ووایو چې زموږ د ځمکې د سطحې له ټولو اوبو څخه یوازې د ۲۰ ملیارد متره مکعبه اوبو څخه په هېواد کې ګټه پورته کیږي او پاتې ۳۷ ملیارد متره مکعبه اوبه په وړیا توګه د ګا ونډیو هېوادونو ځمکې خړوبوي. له بده مرغه هېواد د خوړو له پلوه په ځان بسیا نه دی او اړتیا لري. چې خوراکي مواد له داخلي منابعو څخه چمتو او ترلاسه کړي. خو افغانستان د تولید د وړتیا وړ منابع لکه ځمکه، اوبه او هوا لري. چې د دغه منابعو په ښه مدیریت او کارونې سره هېواد د خوړو له پلوه ځان بسیاینې په لور بیولای شي. ددې لیکنې عمده موخه د قوش تېپې کانال پېژندنه، ځانګړتیاوې او اقتصادي ګټې دي. معلومات له تخنیکي راپورونو او علمي مقالو څخه را ټول شوي دي او د کتابتوني څېړنې له میتود څخه کار اخیستل شوی دی.



***کلیدي کلمې:*** د قوش تیپې کانال، طبیعي سرچینې، اوبه او کرنیز محصولات


# The Economic Impact of Qosh Tepa Canal on Agriculture Sector


**Miraqa Hussain Khail1, Khal Mohammad Ahmadzai[2]**

[1, 2] Department of Agricultural Economics and Extension, Faculty of Agriculture, Kabul University

Email: miraqa_hussainkhail@yahoo.om



**Abstract**

Afghanistan is an agricultural country, with about 80 percent of the country's population depending on agriculture. Decades of conflicts and a growing population have left Afghanistan unable to produce sufficient agricultural products making it dependent on other countries for almost most agricultural products. Water is considered one of the most important natural resources of the country and has direct and special impact on the development of agriculture and livestock. Afghanistan gets about 75 billion cubic meters of water annually. Most of this goes to the neighboring countries without being used for domestic needs. From the total of surface water, Afghanistan uses only 20 billion cubic meters, and the remaining 37 billion cubic meters of water is used to irrigate the lands of neighboring countries. The country is not self-sufficient in food, and it is necessary that the country get self-sufficiency in food using its internal resources. Fortunately, Afghanistan has sufficient productive resources such as land, water and climate, and with good management and use of these resources country can achieve self-sufficiency in food. The construction of the Qosh Tepa Canal to bring water for irrigation is expected to help agriculture production in Afghanistan. The main purpose of this article is to evaluate the economic impact of Qosh Tepa Canal on Afghanistan agriculture. Data were collected from technical reports and scientific articles and the archival method is used.



**Keywords:** Qosh Tepa Canal, Natural resources, Water, Agricultural products

**ارجاع:** حسین خیل، م.؛ احمدزی، خ. م. (۱۴۰۳). کرنې پر سکتور د قوش تېپې کانال اقتصادي اغیزې. *ژورنال علوم طبیعی- پوهنتون کابل* ۷(شماره فوق‌العاده کنفرانس بین‌المللی انقلاب سبز برای خودکفایی افغانستان). **۳۵۹-۳۶۹**.

https://jns.edu.af/jns/article/view/108

**سريزه**

دا چې د افغانستان ډېره برخه ځمکه غرونه او دښتې دي، د مناسب او په کار اوبه لګوونې بنسټونو په نه درلودلو سره د هېواد ډېره برخه اوبه ګاونډيو هېوادونو ته ځي او هغوی ترې ګټه اخلي.
په افغانستان کې د ځمکې د سر اوبو د نه مدیریت له امله، د کروندې د اوبه خور لپاره ډېر کم شمير نهرونه (کانالونه) چې يواځې په څو ولايتونو کې په ډېر کم شمير جوړ شوي دي، کاروول کېږی خو ډېره برخه اوبه خور په پخوانيو کاريزونو کې ترسره کېږي.

دا چې په نړۍ کې د اقليمي بدلون له امله وچکالي راغلې او افغانستان هم ورسره لاس او ګريوان دی؛ نو په افغانستان کې کابو ټول کاريزونه تر ډېره له کاره لويد لي دي (د اوبو او انرژي وزارت، ۲۰۱۹).

همدې ته په کتو، افغان بزګرانو خپل اوبه خور د تر ځمکې لاندې په اوبو پيل کړی دی. دا چاره که له يوې خوا د ورځنی کرنې لپاره مرسته کوي . خو تر څنګ يې يو بل لوی ناورين چې د ځمکو لاندې د اوبو زيرمې دي، په خورا بې دردۍ سره له مينځه وړي. دا چې د افغانستان د ځمکې سطحې د ځای ځای غرونو په درلودلو له يو بل سره ډېرې کمې اړيکې لري؛ نو له همدې امله ترځمکې لاندې د اوبو د چارج (زخيره) کېدلو ډېر کم فرصت ورته برابريږي؛ مانا دا چې د افغانستان ترځمکې لاندې اوبه له پيله ډېرې کمې دي او د کرنې لپاره په پمپونو (په ځانګړې توګه سولري برېښنا په واسطه را) ويستل به يې ښخي داسې حالت ته ورسوي. چې بيا به هيڅکله پکې د پيدايښت څرک وه نه ليدل شي (د کرنې اوبو لګولو او مالداری وزارت، ۲۰۱۹).

همدې ستونزو ته په کتو، اړتيا ليدل کيږي. چې د افغانستان په سيندونو بندونه جوړ شي، او له سيندونو نهرونه را پورته شي. د افغانستان شمال لپاره تر ټولو لويه او حياتي پروژه چې د ښاغلي داود خان له وخته پلان شوې او تر دې دمه افغانستان نه دی توانيدلی، چې کارونه يې بشپړ کړي سرته ورسوي؛ دا د قوش تيپې کانال دی.

**تېرو آثارو ته کتنه**

دا چې د قوش تېپې کانال پروژه د محمد داود خان د واکمنۍ پر مهال د ۱۳۵۲ او ۱۳۵۷ هـ. ل کلونو ترمنځ طرحه شوې وه، خو د جګړو او بې ثباتۍ له امله تر ۱۴۰۱ هـ. ل کال پورې پلې نه شوه. په هر صورت عملي چارې يې د ۱۴۰۱ هـ. ل کال د وري مياشت کې پيل شوې. تر دې دمه د دغې پروژې په هکله علمي څېړنې نه دي شوي ، خو په دې برخه کې د اوبو مديريت، د بندونو او کاريزونو په اهميت بسنه کولای شو (د ملي پراختيايي شرکت، ۱۴۰۲).

**د څېړنې موخې**

د دې څېړني موخه د کرنې او مالداری سکتور په پراختیا  د خوش تېپې د کانال اغیزې مطالعه کول دي.

**د څېړنې میتود**

دا مطالعه په دا دویمي ارقامو ولاړه ده. ارقام او معلومات له علمي مقالو، علمي ژونالونو او د اړوندې پروژې له بېلابېلو څېړنیزو راپورونو څخه ترلاسه شوي دي.

**د څېړنې د ساحې تاکل**

په دغه مطالعه کې د قوش تېپې کانال پروژه د پېښیزې مطالعې (Case Study) په شکل په پام کې نیول شوې ده. د قوش تېپې کانال پروژه کې د آمو له سیند څخه د بلخ، جوزجان او فاریاب په  ولایتونو کې د سپېرو دښتو څخه د کرنیزو ځمکو د جوړولو او خړوبولو، کوچنیو او لویو ساختمانو، لارو او نورو زیربناووجوړول شامل دي.  دا کانال د بلخ ولایت د کلدار په ولسوالۍ کې د آمو له سیند څخه اوبه اخلي د کلدار ولسوالۍ له دښتو بیا د حیرتان- مزار شریف سړک او د دولت آباد ولسوالۍ له نیمه کرنیزو ځمکو تیریږي؛ د آقچې ولسوالۍ او د فاریاب ولایت اندخوی ولسوالۍ دښتو ته رسیږي.

خوش تېپې کانال ۲۸۵ کیلومتره اوږدوالی، په اوسط ډول ۱۰۰ متره پلنوالی او ۸,۵ متره ژوروالی لري. د دې کانال په واسطه به شا او خوا پرتو سیمو کې ۵۵۰ زره هکتاره ځمکې خړوبه شي. دا کانال د دې وړتیا لري. چې په یوه ثانیه کې له ۷۰۰ متره مکعب ډیرې اوبه له آمو سیند نه پورته او د افغانستان ځمکې پرې خړوبې کړي (د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت، ۲۰۱۹).

د معلوماتو له مخې د خوش تېپې کانال جوړښت درې پړاوونه لري. لومړی پړاو یې چې ۱۰۸ کیلومتره اوږدوالی لري، د آمو له سیند څخه د بلخ ولایت دولت آباد ولسوالۍ ته رسیږي. د دویم پړاو اوږدوالی یې ۱۷۷ کیلومتره دی چې د بلخ له دولت آباد ولسوالۍ څخه پیل د جوزجان ولایت له اقچې ولسوالۍ څخه تېر او د فاریاب اندخوی ولسوالۍ پورې رسیږي. دریيم  پړاو یې له همدې لوی کانال څخه په پراته مسیر کې پر ټولو پرتو ځمکو د کوچنیو نهرونو، لویو ویالو ویشل دي، چې پرتې دښتې خړوبې کړي.

د قوش تېپې کانال پروژه به له یوې خوا په آمو کې د افغانستان برخه اوبه چې تر دې دمه ګاونډیو هېوادونو ته بې حسابه ور بهیدې، هېواد ته را وګرځوې، ورسره به د هېواد په شمال کې پرتې دښتې تر کښت لاندې راولي، چې له کبله به یې د هېواد ډیره برخه خوراکي توکې د هېواد دننه برابر کړل شي او

همداسې به د هېواد په شمال کې د بې کارۍ او بې وزلۍ کچه تر ډېره بریده راښکته کړي. د دې پروژې له بشپړېدا سره به په هېواد کې کرنیز انقلاب رامنځ ته شي، دا انقلاب به رزغون او د ودانۍ انقلاب وي. د یاد کانال په بشپړېدا به افغانستان د ګاونډیو څخه د غنمو، وریجو او همدا ډول نورو غذايي توکو راوړلو کچه تر ډېره حده راکمه کړي. دا چې دا کانال د افغانستان د دولت له خوا لخوا، له پخوا راهیسې پلان شوی و؛ خو د آمو په سیند پرتو ګاونډیو هېوادونو پټو لاس وهنو او نیت بدۍ له امله یې چارې ولاړې وې، اوس هم ویره دا ده، چې د دې کانال د جوړېدو او همداسې د ساتنې په مهال به د هېواد شمالي ګاونډیو هېوادونو نیوکې او انګیرنې ولري، ځکه چې تر دې دمه یې د افغانستان اوبه پرته له حسابه کارولي او د دې کانال له جوړښت سره به پرې د افغانستان د اوبو برخه پوره او یا تر ډېره را وګرځول شي.

اوس نو د افغانستان واکمنانو، ولسونو او همداسې سیاسي ژمنتیا ته اړتیا ده . چې په دا ډول ملي موضوعاتو کې له خپلې شخصي تربګنۍ تېر او د افغانستان لپاره فکرونه سره یو کړي.

له تاریخي پلوه د مرکزي آسیا هېوادونو د آمو په سیند کې د افغانستان سهم په ضمني ډول ۲,۱ میلیارده متره مکعب اټکل کړی و. په ۱۹۸۰مو میلادي کلونو کې چې کله د آمو سیند پر وېشخبرې کېدې. نو د افغان لوري له خوا د شاوخوا ٦ میلیارده متره مکعب اوبو حق آبې (اوبو حق) غوښتنه وشوه. چې هغه مهال د شوروي اتحاد له خوا رد شوه. اوس مهال د قوش تېپې کانال پروژه داسې طرح او تنظیم شوی، چې په یو کال کې به ۱۰ میلیارده متره مکعبه اوبه له آمو سیند څخه را اخلي، ځکه نو دا اندازه تر هغه هم زیاته ده څومره چې په ۱۹۸۰مو میلادي کلونو کې افغانستان غوښتنه کړې. د ډیزاین دا ډېر والی د دې لپاره دی، که آمو سیند کې د اوبو کچه ډېره وي؛ نو افغانستان یې د ترلاسه کولو لپاره د لېږد سیستم مخکې له مخکې جوړ کړی وي (Report on Structure Design for Khush Tepa Irrigation Scheme and Power Generation (KTISPG), 2019).

### د قوش تېپې کانال تر کښت لاندې ځمکو اندازه

په اټکلي ډول ۸۰ سلنه ځمکه په تېرو کې نده کرل شوې او زیاتره یې په بیدیايي بوټو پوښل شوې ده، او په پاتې ځمکه یې کله ناکله غنم کرل کېږي . یادې سیمې په ټوله کې د کم میلان لرونکې یعنې هموارې ساحې دي، له همدې امله په کې د سېلابونو او د خاورې ښویدنې (فرسایش) زیان ډېر کم دی.

جدول۱: د خاورې د PH پر اساس د خاورې ویش

| د PH کتګوري | اندازه | د ساحې سلنه |
|---|---|---|
| خنثی | ۶،۶-۷،۳ | ۰ |
| کمزورې القلي | ۷،۴-۷،۸ | ۰ |
| متوسط القلي | ۷،۹-۸،۴ | ۱۶ |
| لوړ القلي | ۸،۵-۹،۰ | ۴۶ |
| ډیر لوړ القلي | له ۹ پورته | ۳۸ |
| ټول | | ۱۰۰ |

منبع: د کرنې، اوبو لګولو او مالداری وزارت د امکان سنجي مطالعاتو راپور ۲۰۱۹

د قوش تېپې په ساحه کې زیاتره خاورې A او B هورایزونو لرونکي دي او د O، E او C هورایزونه تقریباً په هیڅ حساب دي، په داسې حال کې چې د R (سختو تیږو) هورایزون په ډیره لاندنۍ کچه موجود دي او د خاورې د مطالعې د پارامترونو پر بنسټ د لاس رسي وړ نه دي. په زیاته پیمانه خاورې یې روښانه رنګ لري، چې د دې ښکارندي کوي چې په دې سیمه کې د خاورې د عضوي موادو شتون کم او ترڅنګ یې د کلسیم کاربونېټ کچه ډیره ده. په عام ډول د خاورې عمودي برخه (ژوروالی) زیات دی او په ځینو برخو کې له دوه متره هم زیاتوالی مومي. د دې ترڅنګ د خاورې حجمي کثافت هم د ریښو د ننوتنې او ودې پر وړاندې کوم ځندونه نه پیداکوي او د خاورې د اوبو ساتلو توان هم متوسط (۱۰۰-۱۵۰) ملي متر/دقیقه) ته رسیږي. د دې سیمو په خاورو کې د مالګو زیانمنتوب زیات نه دی ، خو د ښېرازۍ (حاصلخیزي) برخه یې کمزورې تحلیل شوې ده، چې دا کمزوري د دې سبب ګرځي. چې په خاورو کې د کېټونونو د تبادلې اندازه ټیټه وي.

د بوټو لپاره د غذایي توکو له پلوه د پوتاشیم پرته د نورو ټولو کمښت شته، نو اړینه ده چې د سرو استعمال او مدیریت ته پکې پوره پاملرنه وشي. د مطالعه شوې سیمې ټولې خاورې تقریباً د الکلي پې اچ (PH) لرونکي دي، په ځانګړې ډول، ۸۴ سلنه خاورې د لوړ پې اچ (۸،۵ – ۹) څخه تر لا لوړ (له ۹ څخه زیات) پورې کچه لري. د دې ترڅنګ پورته الکلي والی د سوډیم د تبادلې سلنې پر بنسټ هم ټاکل شوی، چې په ۸۰ سلنه خاورو کې له زیاتې کچې څخه تر لا زیاتې کچې پورې تحلیل شوی دی. یاد القلي والی دا په ګوته کوي ،چې داخاورې د کلکریوس (القلي عناصرو زیات شتون) څخه تر زیات کلکریوس پورې موجودې دي. د تحلیل شویو سیمو خاورې د داسې شرایطو څرګندوونکې دي،چې د اوبو په مرسته کرنه او په ټوله کې د الکلي خاورو سره د حساسو محصولاتو پر وړاندې خنډونه لري. د ځمکې د توانمندي ډلبندي ښیي، چې د ټولې ځمکې (۵۵۰۰۰۰ هکتاره) څخه ۴۹ سلنه یې تر ډیره د کرنې وړ ده (له ۲ کلاس څخه تر دریم کلاس پورې)، په داسې حال کې چې د اوسنیو شرایطو لاندې

پاتې نوره ځمکه د کښت وړ نه ده. د دې لپاره چې دغه ځمکې د توانمندۍ ټولګیو څخه ښکته دي. د خاورې ښېرازي يو بنسټيز محدودونکی لامل دی، په تيره د خاورې لوړ پي اچ او د کلسيم کاربونېټ سلنه د وخت او لګښتونو پر ستونزو سربېره، د څواک ښښني کلاس کېدلای شي؛ اصلاح او د کښت وړ وګرځي، چې د يوې زياتې برخې کرنيزې ځمکې (۳۹۳۵۰۰ هکتار) د اصلاح سبب کيږي Economic (Khush Tepa, 2019 and Financial Analyses Report for).

د کرنيزو محصولاتو د مناسب والي ارزونې پر اساس د مطالعې لاندې سيمې د غنمو، وربشو، پونبې ، انارو، خټکيو، بادرنګو، کونجد، لبلبو، تور بانجانو، هندوانو او ځينو نورور نباتاتو لپاره مناسبه ارزول شوې ده. د قوي کلکريوس خاورو اصلاح ته بايد جدي پاملرنه وشي او د ښه مديريت لپاره يې د مناسبو کرنيزو کړنو او تجربو لپاره عملي ګامونه اوچت شي.

د دې کانال په پلي کېدو سره کيدای شي چې په دريوو ولايتونو کې ډيرې دښته لرونکې ساحې تر کښت لاندې راشي. د قوش تېپې کانال د ساحې کرنيزې ځمکې له مسلکې پلوه په دريو لاندې برخو ويشل کيږي:

هغه ځمکې چې کانالونه يې احاطه کوي، دغه ځمکې کرنېزې او نا کرنيزې ځمکې دي چې ټولټال مساحت يې ۵۵۰۰۰۰۰ هکتاره کيږي.

هغه ځمکې، چې د کرنې وړ دي، دا هغه ځمکې دې چې د کانالونو، کليو او سړکونو په شمول ټولټال ۳۳۱۴۹۸ هکتاره کيږي.

هغه خالصې ځمکې چې نباتات پکې کرل کېدای شي او ټولټال مساحت يې ۲۹۸۳۴۸ هکتاره چې تقريباً ۱،۵ (يو اعشاريه پنځه) ميليونه جريبه کيږي (Economic and Financial Analyses Report for Khush Tepa, 2019).

د قوش تېپې عمومي او فرعي کانالونه

د دغې مهمې او ملي پروژې په پلې کولو سره ځينې عمومي او فرعي کانالونه جوړيږي، چې د عمومي کانال اوږدوالی ۲۸۵ کيلومتره، عرض (پلن والی) يي په اوسط ډول ۱۰۰ متره او ژوروالی يې له ۸،۵ – ۲۲ متره پورې دی. همدارنګه د اوبو لوړوالی په کانال کې ٦،۵ متره دی ، چې دا کانال اوبه له آمو سيند څخه کرنيزو ځمکو ته انتقالوي.

دغه کانال په يوه ثانيه کې تر ۷۰۰ مترمکعب زياتې اوبه انتقالوي، چې د هلمند له ۵ سيندونو سره برابر دی او لويې باربري کښتۍ پکې حرکت کولای شي. دقوش تېپې کانال خپل ځان سره ځينې فرعي

کانالونه هم لري. چې د فرعي کانالونو تر ۳۰ پورې رسیږي او مجموعي اوږدوالی (طول) یې ۵۴۴ کیلومتره ته رسیږي. نوموړی کانال یو غټ سربند چې (4x۵)متره کې ټول ټال ۲۴ عدده دروازې لري او د عمومي او فرعي کانالونو په اوږدو کې یې ۳۹ عدده پلونه دي. همدارنګه د هلمند سیند په شان د کانالونو په مسیر کې ۱۰۳ عدده د جریان تنظیم کوونکي او ٦٦ عدده د جریان خاموش کوونکي ساختمانونه لري. د دې پروژې په پلې کولو سره سل ګونونه کیلومتره سړکونه او زرګونه لوی، منځنی او کوچنی و دانۍ جوړیږي (Feasibility Study Report (Volume I), December 2019).

جدول۲: په ساحه کې د کښت وړ نباتاتو نوع او سلنه

| ګڼه | د نبات نوع | د کښت اندازه (سلنه) | شمیر | د نبات نوع | د کښت اندازه (سلنه) |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | غنم | ۲۵ | ۱۱ | اینجه | ۸ |
| ۲ | وربشې | ۵ | ۱۲ | پنبه | ۸ |
| ۳ | جوار | ۳ | ۱۳ | کنجد | ۷ |
| ۴ | تور بانجان | ۵ | ۱۴ | کتان | ۵ |
| ۵ | ګاځرې | ۱ | ۱۵ | پسته | ۳ |
| ٦ | مرچ | ۲ | ۱٦ | بادام | ۲ |
| ۷ | خټکي | ٦ | ۱۷ | مڼې | ۱ |
| ۸ | هندوانه | ٦ | ۱۸ | انار | ۸ |
| ۹ | ممپلي | ۴ | ۱۹ | د وچې مېوې ونې | ٦ |
| ۱۰ | بادرنګ | ۵ | ۲۰ | | |

منبع: د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د امکان سنجي مطالعاتو راپور ۲۰۱۹

## پایلې او مناقشه

### د قوش تېپې کانال اقتصادي ګټې

د قوش تېپې کانال پیل د افغانستان د اقتصاد او پراختیا د خلاصون دروازه ده، که څه هم افغانستان یو کرنیز هېواد بلل کېږي، چې کابو ۸۰ سلنه افغانان همدې سکتور پورې تړلی دي او د نفوس له ۴۰ سلنې زیات په مستقیم ډول په همدغه سکتور کې بوخت دی. خو له بده مرغه د کافي اوبو او ځمکې نشتوالی، د کرنې نه میکانیزه کېدل، دوامداره وچکالۍ او د مناسب بازار نشت هغه ننګونې دي، چې لاهم افغانستان د غلو دانو او نورو برخو کې پر صادراتو تکیه لري، امید شته چې د خوش تیپې کانال به په دغه سکتور کې ستر مثبت بدلون راولي (Feasibility Study Report (Volume I), December 2019).

دا چې د افغانستان د ۷,۸ میلیون هکتاره د کرلو وړ ځمکې څخه یوازې ۳,۳ میلیون هکتاره یې اوبینه ده او د هغې یوازې ۱,۸ میلیون هکتاره کافي اوبه لري، نو د دغه وضعیت بدلون لپاره د اوبولګوونې د

سترو پروژه پلي کولو ته اړتیا لیدل کیږي. د خوش تپې کانال د هېواد د شمال لویدیز او شمالي برخو له هغو سیمو څخه تېرېږي چې د ۲۰۰ کیلومتره اوږدوالي او ۵۰ کیلومتره سور سره ۱۰۰۰۰ کیلومتره مربع پراخې دښتې لري او د اوبو له شدید کمښت سره مخ دي نو د دغه کانال په رغونې سره به یې ۵۵۰ زره ځمکه هکتاره خړوبه شي، چې دا د کرنیز سکتور په پراختیا کې د پام وړ بدلون راوستی شي. بل دا چې افغانستان ۵۷ میلیارده مترمکعب اوبه لري. خو له بده مرغه یوازې له ۲۰ سلنې څخه یې په کور دننه استفاده کیږي او پاتې نورې یې د اوبو لګونې د مدیریت نشتوالي له امله ګاونډیو هېوادونو ته بهیږي. همدارنګه آمو سیند چې د هېواد له مهمو اوبه‌ییزو حوزو څخه ګڼل کېږي، په یوه ثانیه کې ۲۰۰۰ متر مکعبه اوبه لېږدوي نو د قوش تېپې کانال رغونه د یاده اوبه‌ییزې حوزه مدیریت کې رغنده ګام بلل کیږي (Feasibility Study Report (Volume I), December 2019).

د قوش تېپې کانال لومړنۍستره پروژه ده، چې تخنیکي چارې یې د افغان انجینرانو له‌خوا ډیزاین شوي، له ملي بودجې څخه تمویلېږي او د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت په مدیریت تطبیقېږي،په یوه وخت کې کابو ۲۰۰ زرو افغانانو ته په لنډمهاله او زرګونو نورو ته د دایمي کار زمینه برابرولی شي. دا چې اوس‌مهال مو ډېری هېوادوال له وزګارتیا څخه کړیږي. نو دغه پروژه د کارموندنې او وزګارتیا کچې په راکمولو کې یو مهم پرمختګ ګڼلای شو.

پر دې سربېره آمو سیند چې د کندز، بلخ، فاریاب او جوزجان په ولایتونو څخه تېرېږي، نه یوازې دا چې له اوبو څخه یې مناسبه استفاده نه‌کېږي، بلکې د منځنۍ آسیا هېوادونو له لورې د سیند غاړې تحکیماتو له امله په افغانستان کې د زیاتې ځمکې د تخریب لامل شوی دی او هر کال په سلګونو هکتاره کرنیزه ځمکه تخریبوي چې د کانال په فعالیدو سره به د دغو اوبو ډېره برخه مدیریت او د تخریب وړتیا به یې راکمه شي (Gender Analysis Report, 2019).

جدول ۳: د تولید زیاتېدونکې سلنه

| کال | سلنه | کال | سلنه |
|---|---|---|---|
| ۷ | ۹ | ۱۲ | ۵۸ |
| ۸ | ۱۲ | ۱۳ | ۸۰ |
| ۹ | ۱۵ | ۱۴ | ۸۹ |
| ۱۰ | ۴۰ | ۱۵ | ۹۵ |
| ۱۱ | ۵۱ | ۱٦ | ۹۸ |

منبع: د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د امکان سنجي مطالعاتو راپور ۲۰۱۹

په اقتصادي طرحه کې د قوش تېپې کانال د پروژې د جوړېدو وخت ۹ کاله او د ګټې اخیستنې موده یې ٦۰ کاله په پام کې نیول شوي ده. د پروژې پانګونه د ۹ کلونو په موده کې تر ۱,۳ میلیارد ډالره پورې

اټکل شوې ده. دا پروژه به څلور کاله وروسته عاید رامنځته کوي چې د اووم کال عاید به یې له لګښتونو څخه ۱۸ میلیونه ډالره زیات وي. د قوش تېپې پروژې تر بشپړېدو وروسته به د لومړي کال نګه عاید تر ۴۱۳ میلیون ډالرو پورې وي، چې کال په کال به لوړیږي، ۲۳ کاله وروسته به د پروژې عاید تر یو میلیارد ډالر لوړ شي او ۵٦ کاله وروسته به د پروژې کلنی عواید ۱۱,۵ میلیارد ډالرو ته ورسیږي او له ۳ جدول سره سم د تولید زیاتیدونکې سلنه د اووم کال څخه پیلیږې چې په اووم کال کې به د تولید سلنه له ۹څخه پیل بیا پر ۱٦ کال کې به د تولید کچه ۹۸ سلنې ته اوچته شي (RESETTLEMENT ACTION PLAN, 2019).

## د قوش تېپې کانال د اوبو حقوقي اړخ

له آمو سیند څخه هم دا پروژه ترکمنستان په ۱۹۵۲میلادي کال کې د کرکوم کانال تر عشق آباد پورې د کرنېزو ځمکو د خړوبولو لپاره جوړ کړی. چې اوږدوالی یې ۱۴۰۰ کیلومتره کیږي او دا کانال د دنیا له ټولو کانالونو څخه اوږد کانال دی. د ترکمنستان خلکو دا کانال د بشري قوې په واسطه چې قوي هوډ یې درلود، په بېل او زمبېل شروع او سر ته ورساوۀ ی چې نن د همدې کانال له برکته د اروپایي هېوادونو لپاره طلا (مالوچ) تولیدوي.

تر اوسه هېڅ داسې رسمي او د تطبیق وړ سند نشته، چې د آمو له سیند څخه د افغانستان، تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان د اوبو برخه پکې معلومه شوې وي. د آمو سیند حوزه په کال کې له ٦۷ تر ۷۰ میلیارد مترمکعب اوبه جوړوي، افغانستان تر تاجکستان وروسته د اوبو په تولید کې ډېر سهم (۳۰ سلنه) لري، خو د بیخبینایي پروژو د نشت له امله تر تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان کمه استفاده لري، چې د استفادې اندازه یې احتمالاً په کال کې له ۲ تر ۳ میلیارد مترمکعب پورې رسیږي، خو د آمو سیند په اوبو کې د افغانستان سهم ۲۰ میلیارد مترمکعبه له پنج سیند، ٦,۲ میلیارد مترمکعبه له کوکچې سیند او ۴,۲ میلیارد مترمکعبه له کندز سیند څخه له آمو سیند سره یوځای کیږي (Feasibility Study Report (Volume I), December 2019).

## پایله

دا چې افغانستان یو کرنیز هېواد دی؛ له بده مرغه د تېرو حکومتونو لهخوا چې ټوله تکیه یې پر بهرنیو مرستو وه، د کرنې سکتور پراختیا او لویو ملي پروژو ته هیڅ پام نه دی شوی، اړینه ده چې پر ځان بسیا افغانستان لپاره د دا ډول ملي پروژو تطبیق د دولت په لومړیتوبونو کې وي چې په پایله کې به هېواد د بهرنیو مرستو له احتیاج څخه خلاص او پر خپلو پښو ودروي. د قوش تېپې کانال سره به د افغانستان د شمالي سیمو اقتصادي ځواک په ځانګړې توګه د کرنې په برخه کې د پام وړ وده وکړي. د لوړ کیفیت

او حاصلخیزې ځمکې او جغرافیایي او اقلیمي شرایطو سره، دا سیمه ان د سیمې لپاره د ډېري کرنیزو توکو وړاندې کوونکې کیدای شي. د ځینو کارپوهانو په اند، له دې کانال څخه په ګټې اخیستنې سره افغانستان نه یوازې خپل غنم بلکې د سیمې د هېوادونو لپاره هم د غنمو تولید وکړای شي.

**اخځلیکونه**

AACS Consulting, & BETS Consulting. (2019). *Economic and financial analyses report for Khush Tepa irrigation scheme and power generation (KTISPG) feasibility study*.

AACS Consulting, & BETS Consulting. (2019, December 23). *Feasibility study report (Volume I), Khush Tepa irrigation scheme and power generation (KTISPG) feasibility study project*. Kabul, Afghanistan.

AACS Consulting, & BETS Consulting. (2019). *Gender analysis report: Gender perspectives and gender participation, Khush Tepa irrigation scheme and power generation (KTISPG) project*.

AACS Consulting, & BETS Consulting. (2019). *Soil and land classification report, Khush Tepa irrigation scheme and power generation (KTISPG) feasibility study project*.

AACS Consulting, & BETS Consulting. (2019). *Report on structure design for Khush Tepa irrigation scheme and power generation (KTISPG) feasibility study*.

AACS Consulting, & BETS Consulting. (2019). *Resettlement action plan, Khush Tepa irrigation scheme and power generation (KTISPG) feasibility study project*.

د اوبو او انرژي وزارت .(۱۴۰۲) .*تخنیکي راپورونه*.

د چارو لوی ریاست . (۱۴۰۲) .*تخنیکي راپورونه*.

د ملي پراختیایي شرکت .(۱۴۰۲) .*تخنیکي راپورونه*.

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت. (۲۰۱۹). *د خوش تېپې د کانال د امکان سنجی مطالعاتو راپور*.